
SuffolkCollective
Suffolk partners and agencies working together
The Collaborative Communities COVID-19 Board

suffolk Resilience

MESSAGE CASCADERS

# د کوویډ-19 واکسین او بوسټر په اړه معلومات
## *ځینې معمول تعبیرونه*



***تعبیر:* زه اړتیا نلرم چې واکسین شم ځکه چې ما دمخه کوویډ تېر کړی.**
*ځواب:* یوې وروستۍ څېړنې موندلې چې هغه خلک چې د کوویډ-19 په وړاندې واکسین شوي ندي کیدی شي درې میاشتې وروسته بیا ځلې په کوویډ اخته شي. په یاد ولرئ، تاسو کولی شئ پرته له دې چې پوه شئ ویروس انتقال کړئ او نورو ته یې خپور کړئ، حتی که تاسو ځان ښه احساس کوئ او هیڅ نښې نښانې هم نلرئ.



***تعبیر:* دا ډېره طبیعي ده چې په کوویډ-19 د اخته کیدلو څخه معافیت ترلاسه شي**
*ځواب:* موږ نه پوهیږو چې په کوویډ - 19 د اخته کیدلو څخه معافیت څومره اوږد یا څومره قوي وي. هغه څه باندې چې موږ پوهیږو، دا دی چې کیدی شي تاسو په کوویډ - 19 بیا بیا اخته شئ، که چېرې تاسو فیصله وکړئ چې خپل واکسینونه ونکړئ. که چېرې تاسو په کوویډ - 19 باندې د اخته کیدلو انتظار کوئ نو تاسو له دې خطر سره ځان مخامخ کوئ چې جدي ناروغ شئ، له کار څخه غیرحاضر پاتې شئ او احتمالا په روغتون کې بستري شئ. د واکسین په ترلاسه کولو سره، تاسو په کنټرول شوي ډول معافیت ترلاسه کوئ او تر ټولو مهمه خبره، تاسو د دې وخت غوره کوئ.




***تعبیر: ما د واکسین دواړه دوزونه اخیستي دي، زه بوسټر ته اړتیا نلرم.***

*ځواب*: د کوویډ-19 واکسین بوسټر ډوز د واکسین له لومړیو دوه دوزونو څخه د ترلاسه شوي محافظت په ښه کولو کې مرسته کوي.
دا مرسته کوي ترڅو تاسو ته د کوویډ-19 څخه په جدي ډول د ناروغیدلو پروړاندې اوږدمهاله محافظت درکړي.



***تعبیر:* ما اوریدلي چې بوسټر کیدای شي په خلکو باندې څورونکي ناوړه اغیزې ولري، او زه نه غواړم د جشن په ورځو کې ناروغ شم**

*ځواب:* ساده ځواب دا دی چې دا خورا ښه ده چې اوس واکسین شي او په جدي ډول د ناروغیدلو خطر کم کړي. ځینې معتدل ناوړه اغیزې معمول دي، او تاسو کیدی شئ د لنډ وخت لپاره د ناروغي احساس وکړئ. په معمول ناوړه اغیزو کې د سر درد، تبه او په لاس کې یو څه بې حسه درد شامل دي مګر معمولاً دا معتدل وي، او هرڅوک نه پې اخته کیږي.



***تعبیر:که چېرې د دې امکان شتون لري چې یو واکسین شوی کس کیدی شي په کوویډ–19 اخته شي، نو د واکسینونو کول بېځایه دی.***
*ځواب:* د واکسینونو کول کولی شي د کوویډ-19 سره د ناروغۍ په مخنیوي کې مرسته وکړي. پداسې حال کې چې په کوویډ-19 باندې د اخته کیدلو سره ډیری خلک یوازې په معتدل ډول ناروغ وي، نور خلک کیدی شي کلک ناروغ شي، یا حتی کیدی شي مړه شي. د وخت څخه دمخه په دې د پوهیدو کومه لاره موجوده نده چې کوویډ-19 به په تاسو څنګه اغیزه وکړي، حتی که تاسو د شدید اختلالاتو له ډیر خطر سره مخ هم نه یاست.



د کوویډ-19 واکسین ستاسود بدن په ساتنه کې مرسته کوي او ستاسو بدن ته روزنه ورکوي چې څنګه کوویډ-19 وپیژني او ورسره مبارزه وکړي پرته لدې چې واقعاً په کوویډ اخته او ناروغ شي.

د کوویډ-19 واکسین په اړه د نورو معلوماتو لپاره، پشمول د دې چې څرنګه وخت ونیسئ او د ځایي واک-این سنټرونو توضیحاتو لپاره ، دې ویب پاڼې ته ورشئ www.sneevaccine.org.uk

I'm saying yes2test
Suffolk County Council
We're keeping Suffolk Covid safe

د کوویډ-19 واکسین په اړه د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ لیدنه وکړئ www.sneevaccine.org.uk
که تاسو د خپلو بیلونو، دندې، یا خپل کور په اړه اندیښمن یاست، **د سفوک مشورې او ملاتړ خدمت دې شمېرې** 08000683131 **په وړیا ډول** زنګ ووهئ
د دوشنبې څخه تر جمعې ورځې، د سهار له 9 بجو څخه تر ماښام 5 بجو پورې.

21/12/2021

Pashto